مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۱/۱۲/۱۱

# غزل

حساب کوي خپله حساب نه مني
پوښتنه وکړي خو ځواب نه مني

دوي د ټوپک په خوله خبرې کوي
رښتيا وينا د هيڅ کتاب نه مني

دوي له فطرت د قوانينو منکر
د شپې مهتاب په ورځ آفتاب نه مني

د دين نه کار د اسلحې اخلي
زما د سرو وينو سور سېلاب نه مني

غواړي ټوپک راله په اولې کېږدي
زما په غېږه کښې رباب نه مني

که دوي هر څو په بدو لارو درومي
د ځان ګناه ، د ځان غذاب نه مني

مصطفی پسرلی
10/Dec/2021


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ